ډاکټر ګل مرجان منګل ۲۰۱۴/۰۸/۱۰

بله تأریخی تیروتنه وشوه!

خبره له شَف شَف راووتله او معلومه شوه چی ډاکټر اشرف غنی او عبدالله د ملی وحدت په نوم تړون لاسلیک کړ پداسی حال کی چی ټول جزئیات یی لا تر اوسه میډیا ته ندی راوتی خو جان کری د امریکا د بهرنیو چارو وزیر چی د دواړو رقیبانو (اشرف غنی، عبدالله) تر منځ د نوموړی تړون په لاسلیک کولو کی منځ غاړی وو ویلی دی چی په اجرایی پوست باندی د افغانستان د اساسی قانون په رڼا کی هوکړه شوی ده. زما په ګمان باید د ډاکټر اشرف غنی او عبدالله تر منځ دا تأریخی تیروتنه نه وای شوی، دا تړون نه وای لاسلیک شوی اوګډ یا ائتلافی حکومت نه وای جوړ شوی دا ځکه چی:

لمړی: دا چی افغانان د جګړی او جګړه مارانو ورپسی د رشوت او رشوتخورانو همدارنګه د بی کفایته دولت او سیاستمدرانو له له لوری بی حده ډیر ستړی شوی وو نو یو لوی خطر یی په غاړه واخیست او د رایو مرکزونو ته یی ځانونه ورسول او خپلی رایی یی ورکړی پدی خاطر چی په ټول هیواد او ورپسی په شخصی ژوند کی یی بدلون راشی او یو داسی مشر وټاکی تر څو همدغه یادو شویو ناخوالو ته د پای ټکی کیږدی، ارمانونه یی پوره شی. خو د ائتلافی حکومت په جوړیدلو سره یی فکر کوم چی دا آرمان پوره نه شی.

دوهم: دا چی افغانانو د ولسواکی پر لوری لومړی قدم اوچت کړی وو او په ډیرو سختو شرایطو کی یی لکه چی پورته یی یادونه وشوه د سر په بیه خپلی رایی ورکړی وی بی نتیجی شوی.دا ځکه چی ائتلافی حکومت یی ټولی آرزوګانی د خاورو سره خاوری کوی، کله چی ګډ حکومت جوړیږی بیا نو د ولس رای څه معنی لری؟ نو ویلی شو چی د ګډ یا ایتلافی حکومت جوړیدل به د ولس زړونه د ټاکنو تور کړی او په راتلونکی کی به هیڅوک هم نه په ټاکنو باور لری او نه په سیاستمدرانو، همدارنګه د ایتلافی حکومت جوړیدل پر ولسواکی یو لوی ګذار دی چی عاملین یی ولسونه نه بلکی سیاستمداران دی او دا سیاستمدران دی چی ولسواکی په نطفه کی خنثی کوی او دا کار باید هغوی نه وای کړی.

دریم: دا چی دا نوی ګډ یا ائتلافی حکومت د افغانانو په خوښه نه بلکی د امریکا یو بل نوی ماډل دی چی جوړیږی او ګرانه به وی چی نتجه ورکړی، دا ځکه چی جان کری په حکومت کی د یوه نوی پوست چی اجرایی پوست نومیږی یادونه کړی ده او دا یی هم ویلی دی چی دا پوست د افغانستان له اساسی قانون سره په ټکر کی ندی پداسی حال کی چی د افغانستان په اساسی قانونو کی داسی څه وجود نه لری، چی ایجادیږی. د دغه نوی پوست رامنځ ته کول پدی خاطر امریکایان غواړی ترڅو د ولسمشر صلاحیتونه تقسیم کړی او دا هم پدی خاطر چی د ولسمشر لپاره یو سردرد پیدا کړی او په حکومت کی د نظر یوالی شتون ونه لری تر څو امریکایان د بی اتفاقی په نتجه کی چی د ولسمشر او دغه نوی اجرایوی رئیس تر منځ به یی رامنځ ته کوی او دی ته به لاره همواروی چی خپلی اجنډاوی په آسانه سره پلی کړی چی دا یی لا تر ټولو خطرناکه خبره ده.

بل خوا که موږ دا ومنو چی افغانان او افغانستان له ولسواکی او د ولس په خوښه د جوړ شوي حکومت څخه لا ډیر واټن لری او لا باید پدی خاطر سازشونه وشی، دا ځکه چی د ولس لاسونه او پښی د جګړه مارانو او زورواکانو له خوا تړل شوی دی، خلک نه شی کولی چی خپله خوښه وکاروی او یو منتخب حکومت وټاکی ولی برعکس دی ته غاړه کیږدی چی ائتلافی یا ګډ حکومت ومنی نو دا نوی حکومت چی جوړیږی باید د دوو اشخاصواو یا دوو ټیمونو (ډاکټر اشرف غنی او عبدالله ټیمونو) تر سرحده پوری نه وی محدود او بیا د بون تجروبی تکرار نه شی په افغانستان کی نور زورور هم شته او که هغوی ته ونډه ورنکړل شی نو جګړه به هیڅکله هم ختمه نه شی چی طالبان او حزب اسلامی حکمتیار یی د مثال په ډول یادولای شو.

مننه

پای

۹/ اګست /۲۰۱۴

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ